شریعت
SHARIAT WEEKLY
اوونیزه
په اوونی کي دوه ځله خپریږي
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان
پنځم کال تولسمه ګڼه پرله پسې (٣٠٦) چهارشنبه د ١٤٢٠هـ ق کال د ذوالحجة الحرام (٢) د١٣٧٨هـ ش کال د کب (١٨) د ٢٠٠٠ میلادي کال د مارچ (٨)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې !،
همدا (عدل) ډیر نږدې دی
تقوا(پرهیزګاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتي بګذارید.

دوران هیواد بیا رغونه دهر افغان ایمانی دنده ده

محترم الحاج ملا محمد ربانی

له اسلامی معیارونو سره سم دخصوصی سکتور د بانک جوړول زمونږ اساسی هدف دی

دممتاز شرکت رئیس

دافغانستان داسلامی امارت رئیس الوزرا، محترم الحاج ملا محمد ربانی دخپل کار په دفتر کی دممتاز شرکت رئیس محترم محمد عمر ممتاز دکتنی لپاره دخپل حضورته ومانه.

د ریاست الوزرا، مطبوعاتی دفتر د باختر اطلاعاتی آژانس ته خبر ورکړ ددی کتنې په بهیر کی دهیواد سابقه لرونکی سوداګر او دممتاز شرکت رئیس محترم محمد عمر ممتاز چی په دی وروستیو وختو کی له امریکا څخه هیواد ته راستون شویدی. پداسی حال کی چی دده زوی محترم احمد ممتاز چی دامریکا دمتحده ایالاتو داقتصادی لوړو زده کړو د یوه مرکز فارغ التحصیل دی هم حاضر و د خپلو خبرو په ترڅ کی

وویل چی زمونږ اساسی هدف له اسلامی معیارونو سره سم په هیواد کی دخصوصی سکتور دبانک جوړول دی.

دغه بانک په معمولو بانکی فعالیتونو سربیره د صنایعو او سوداګری په پرمختیا کی هم ستر رول لوبوی او د ښارو څمکو د خرڅولو لپاره تر ځمکی لاندی اوبو

٤ مخ

دختیځ زون په مربوطاتو کی تر سره شوی عمرانی فعالیتونه داسلامی امارت دبشپړ سیاسی او نظامی ثبات ښکارندوی دی

محترم مولوی عبدالکبیر

د ریاست الوزرا، اقتصادی مرستیال او دختیځ زون تنظیمه رئیس محترم مولوی عبدالکبیر دننګرهار ولایت دبیلابیلو ولسوالیو د قومی مشرانو او مخورو په غونډه کی ګډون وکړ.

دجلال آباد له ښار نه دباختر داطلاعاتی آژانس خبریال خبر راکړ د ریاست الوزرا، محترم اقتصادی مرستیال او دختیځ زون تنظیمه رئیس په دی غونډه کی دخپلو عالمانه او هر اړخیز و خبرو په ترڅ کی دختیځ زون سیاسی، نظامی او اقتصادی حالات باثباته او ډاډمن وبلل او وی ویل: دختیځ زون په مربوطاتو کی له سیاسی او نظامی ثبات څخه په ګټې اخیستنې سره دختیځ زون دولایتونو په

٤ مخ

د ښځو د نړیوالی ورځی په مناسبت:

د کابل د پتمنو او مسلمانو ښځو له خوا درنه غونډه

ستاسی د ټولو شرعی حقوقو د پوره ژغورلو او خوندیتوب لپاره پر پخوانیو فرمانونو او څرګندونو برسیره نور کار هم کوم

عالیقدر امیر المومنین

د افغانی میرمنو د حقوقو په اړه د امریکا اندیښنه او د امریکا تر فشار لاندی د ملګرو ملتونو اقتصادی تعزیرات د افغانستان د ښځو ستونزی نوری هم زیاتی کړیدی

پوهنیار انجنیر شریفه

د ښځو د نړیوالی ورځی په مناسبت د کابل ښار د اوسیدونکو ښځو له خوا د روان میلادی کال د مارچ په اتمه چی د روان هجری قمری کال د ذوالحجی د میاشتی له دوهمی او د چارشنبی له ورځی سره سمون خوری یوه درنه غونډه جوړه شوه.

د شریعت اوونیزی خبریالی د غونډی له ځایه خبر راکړ: په دی پرتمینه او شانداره غونډه کی چی سحر لس بجی د محترمی فوزیی له خوا د قرآن عظیم الشان د مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه له زرو څخه ډیری د کابل ښار اوسیدونکی ښځو، د بی بی سی او امریکا راډیو ښځینه خبریالانو سربیره د څنو

ص ٤

د ښځو د نړیوالی ورځی په مناسبت د عالیقدر امیر المؤمنین پیغام

دیندارو، غیرتمنو او پتمنو میندو او خویندو ! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

الله تعالی دی د هغو ډیرو ویړونو، دردونو، ستونزو او کړاوونو ښه بدل او ثوابونه په دنیا او آخرت کی در په برخه کړی چی له شلو کلونو زیاته موده یی تاسی او ټول هیوادوال وکړول او د ازمیښتونو په بټی کی یی پاخه کړل، دا ځکه چی زمونږ په ښکلی هیواد پوری د تاریخ په اوږدو کی د چا خیره خپل پوستکی اور دی، په دی معنی چی د خپل جغرافیایی موقعیت او طبیعی زیرمو له امله؛ پیریو په اوږدو کی د برغلګرو خواکونو د برغلونو او تیریو ډګر دی او لکه چی تاسی ته معلومه ده د ډیرو ناروا تیری کوونکو ککری پکښی رغړیدلی دی، تمی او ارمانونه یی پکښی ښخ شوی دی. د نیمه خوا شوروی ناروا تیری، هغه بی شمیره ستونزی او کړاوونه چی زمونږ هیوادوالو ته یی را پیښ کړل او بیا د دوی شرمیدلی ماتی او ټوټی ټوټی کیدل دا هر څه تاسی ولیدل

د شوروی له ماتی وروسته چی د مجاهدینو او اسلام په نوم حکومت په هیواد کی جوړ شو او د هیواد کونډو، یتیمانو، روغو او معلولو مجاهدینو او ټولو هیوادوالو بلکی ټولی اسلامی نړی د یوه نیکمرغه ودان، آرام هیواد او اسلامی شریعت د پوره پلی کیدو په تمه بی شمیره امیدونه وړپوری وتړل له بده مرغه دا امیدونه د ځینو بی لاری شوو او ځان غوښتونکو ځیرو د ځان غوښتنی له امله ټول نیمګړی پاتی او له خاورو سره خاوری شول، د دغه ناورین په اوږدو کی چی تاسی او ټولو هیوادوالو څه ولیدل او څه مو واوریدل ټکی په ټکی به مو په زړه وی،

تاسی او ټولو هیوادوالو ولیدل چی زمونږ په هیوادوالو یو ځل بیا داسی مصیبتونه او ویرونه راغلل چی د زغم ور نه وو هغه هم ؛ داسی چا له لاسه چی زمونږ هیوادوال وو د مجاهدینو او مسلمان نوم ورپوری و.

ددغسی بی شمیره ناروااوو، نا دودو او ناخوالو په لیدلو او اوریدلو په تیره بیا د تاسی پتمنو د عزتونو له خطر محسوسولو سره ستاسی د غیرتمنو زامنو او وروڼو طالبانو او پاکو مجاهدینو د غیرت اور په لمبو شو، ددغه فشارونو، ویرونو او دودونو د له منځه وړلو لپاره د

٤ مخ

قطعنامهء گردهمایي زنان به مناسبت ۸ مارچ روز جهاني زن

١- ما زنان مسلمان افتخار داریم تا بګوییم که درعهد و زماني که چیزي بنام حقوق زن و حقوق بشر در جهان وجود نداشت وزن موجودي پائین تر از انسان تلقی می شد، از حق مالکیت میراث و غیره محروم و چون یك متاع مورد خرید و فروش قرار مي ګرفت، اسلام به زن عزت داد و حقوقي را که موافق به ساختمان فزیکي و رواني و احساسات و عواطف وي بود به او ارزاني نمود.

٢- باید جامعه، بین المللي به یك نظام فامیلي و اجتماعي توافق ورزند که در آن خواسته ها و احساسات مذهبي و کلتوري همه ملت ها در نظر ګرفته شود و تنها بر ارزش هاي جامعه غربي استوار نباشد.

٣- تعبیر از آزادي، حقوق بشر و دیموکراسي در همه کشور ها، اقلیم ها و محدوده هاي جغرافیایي که داراي ارزش هاي مذهبي و کلتوري مختلف مي باشند یکسان نبوده و نباید یك تعبیر خاص که مطابق با روحیه و خواست فکري، سیاسي اقتصادي و محیطي بخصوص جامعه، غربي باشد از آن نمود. که این تلاش جز ایجاد فاصله میان ملت ها و بي ثباتي کشور ها و تضاد بیشتر میان ارزش هاي مختلف نتیجه دیګري نخواهد داشت.

٤- حجاب اسلامي هیچګاه با آزادي سالم زن ندر تضاد نبوده و موجب حفظ عزت و عفت زن است و ما زنان مسلمان افغان با قاطعیت از رعایت حجاب اسلامي حمایت مي کنیم.

٥- چون افغانستان یك کشور اسلامیست همه قوانین بر اصول شریعت اسلامي استوار بوده و حقوق فردي و اجتماعي افراد جامعه اعم از زن و مردم باید در چهار چوب همین اصول عیار ګردد که الحمد لله چنین ګردیده و مورد تائیر و حمایت ماست.

٦- ما از فرامین عالیقدر امیر المؤمنین که در رابطه با احقاق حقوق زنان افغان خاصتاً حقوق مدني آنها صادر ګردیده و در تاریخ کشور ما بي سابقه مي باشد ابراز اطمینان و رضائیت نموده و توقع داریم که در این رابطه در چهارچوب حقوق مشروع زن مسلمان قدم هاي ګسترده تر برداشته شود.

٧- از تعزیرات اقتصادي که به بهانه هاي مختلف از طرف سازمان ملل متحد به رهبري و فشار امریکا بر افغانستان تحمیل ګردیده زنان و اطفال افغان بیش از همه در فشار و مضیقه اند. مدعیان احقاق حقوق زن در جهان با حمایت ز این اقدام در حقیقت با زنان افغان اعلام دشمني نموده اند اګر

ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د ښځی د نړیوالی ورځی په اړه

د مارچ اتمه په نړي کي د ښځي د ورځي په نوم یادیږي داچی د نړیوالو لخوا هغی ته د بشپړ کال په ٣٦٠ ورځو کي یوائی دغه یوه ورځ ټاکل شوی مونږ څه نه وربانديوایو . خو تر کومه ځایه چی خبره د ښځی په شخصیت او په بشری ټولنه کی د هغی پر منزلت پوری ده هغه خو هر چا ته ښه څرګنده ده . ښځه د انسانی ټولنی هغه موثر او ارزښتناک عنصر دی چی شتهوالی یی د انسانی ټولنی د تکامل او بشپړوالی لامل دی.

په تیری او معاصری نړی کی د ښځی په اړه بیل، بیل

٢ مخ

بهشت زیر پای مادران است

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مسرمنشیال : غلام محمد «فاروق»
دیوي گڼي بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸٥ / ۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

روایات او د ستوری موجودی دی. خو مونږ دلته غواړو په اسلام کی ددی با اهمیته مخلوق په اړه څو ټکو ته اشاره وکړو :

ښځه د اسلام د سپیڅلی دین له نظره د یوه ځانګړی مقام درلودونکی ده د اسلام سپیڅلی دین د ژوند په ټولو پړاونو کی هغی ته خاصه درجه ورښبلی. کله چی هغه ماشومه وی نیکمرغه مولود یی بولی کله چی هغه بالغه او میرمنه شی د ژوند غوره خزانه او بهترینه متاع یی یادوی او کله هم چی هغه د موروالی ویاړ تر لاسه کړی بیایی جنت تر پښو ورلاندی کوی، د جنت خطاب ورته کوی او آن دا چی د هغی خوښی او ناخوښی د لوی څښتن له خوښی او ناخوښی سره معادل ګڼی. د اسلام سپیڅلی دین ښځی ته په فردی او اجتماعی لحاظ ټول هغه له انسانی سالم فطرت سره برابر امتیازات ورکړی چی نورو ټولو وضعي قوانینو هغه تری بی برخی کړی ده.

نن په غربی نړی کي د ښځی د حقوقو په اړه یوه هنګامه پیل ده څوک یی د حقوقو د لاس ته راوړلو ناری وهی، څوک یی د ازادی خبری کوی څوک یی په ټولنیزو چاروکی له نارینه و سره د ګډون او مساوات دعوی کوی او ...

خو له دی ټولو سره سره هغه بیا هم د ټولو بدمرغیو ښکار ده ستونزی، او کړاونه محرومیت او مظلومیت ټول د هغی په برخه دی د هغی له ټول قیمتی او محترم شخصیت څخه یوائی او یوائی د یوی شهوت انګیزه وسیلی کار اخیستل کیږی. که هغی ته په ټولنیزو چاروکی د ګډون حق ورکوی که په هغی له نارینه و سره د مساوات احساس باروی که هغی ته د ازادی او خپلواکی وعدی ورکوی ټول ددی لپاره چی د هغی په بر بنډوالي او د صورت د محاسنو په ښکارکولو سره خپلی حیوانی غریزی اشباع او په بدل کی د هغی انسانی کرامت، بشری عفت شخصیت ټول له منځه یوسی.

د افغانستان اسلامی امارت چی د لوی څښتن «ج» اسمانی کتاب او د حضرت محمد «ص» مبارک احادیث یی د الهام اخستلو یوائنی منبع ده د خپلی انسان دوستانه تګلاری له مخی د هیواد ټولو مومنو دیندارو او با عفته ښځو ته په ټولو هغو امتیازاتو قائل دی کوم چی د هغوی بشري شرعی او فطری حق دی.

د هغوی د انسانی کرامت، عفت او د هغوی د ټولو بشری سالمو حقوقو د لا خوندی ساتلو په لار کی یی خپل ټول وس پکار اچولی او ډیرو شاځلمیانو یی په دی لار کی خپل سرونه قربان کړل. زموږ په افغانی ټولنه کی د ښځو په اړه له پخوا څخه ځینی ناروا رسومات موجود و د هغوی د له منځه وړلو لپاره یی ځانګړی فرمان صادر کړ او نور هم په دی لټه کی دی چی هر څومره ممکن وی د سپیڅلیو اسلامی روایاتو او افغانی سالمو عنعناتو په رڼا کی د هغوی لپاره د ارام، هوسا نیکمرغه او له شرافته ډک ژوندون لاری چاری ولټوی.

د افغانستان اسلامی امارت په دی باور دی چی د هیواد مسلمانی خویندی او میندی به په هیواد کی د اسلامی نظام د انفاذ په لار کی له خپلو مسلمانو وروڼو سره یو ځای قربانی او سربښندنی ته تیاری دی او هیڅکله به د اسلام، بشریت او انسانی کرامت د لوټونکو د هغو ناروا تبلیغاتو تر اغیزی لاندی را نشی کوم چی نن یی د ښځو د ازادی، خپلواکی او مساوات په اړه باندی پیل کړی هغوی ټولو ته اوس دا ښه څرګنده ده چی د ټولی بشری طبقی واقعی سعادت او نیکمرغی یوائی او یوائی د اسلام په سپیڅلی دین کی نغښتی او بس.

زن در افغانستان قبل از اسلام

وحید «مژده»

زن در تاریخ نه تنها بعنوان نیمی از جامعه، بشري از نظر کمي مطرح است بلکه بعنوان یك عنصر مهم سازنده اجتماع و تمدن باید آنرا مورد بحث قرار داد. هر چند در تاریخ بشر زناني که بتوان آنها را به اصطلاح تاریخ ساز بشمار آورد بسیار نادر است ولي نباید این حقیقت مهم را فراموش کنیم که دامان زن بعنوان (مادر) نخستین مدرسه براي تربیه هر طفل است و در همین مدرسه نخستین است که شخصیت طفل شکل مي گیرد. و در آینده قدم به صحنه اجتماع مي گذارد.

بنا بر این هر قهرماني زاده و پرورده دامان زن است.

در تاریخ جهان باستان نقش زن محو و ناپیداست و اگر از زنان نامداري در تاریخ ذکري هم بمیان آمده به اعتبار رابطه، خانوادگي آنان با مردان نامدار آن عهدو و عصر بوده است و چهره زناني که خود توانسته باشند با کارنامه هاي خود، خود را در تاریخ بعنوان یك چهره بارز مشخص سازند بسیار نادر است.

در یونان و همچنان در روم قدیم زن حیثیتي بالاتر از حیوان و پائین تر از انسان داشت که در مقابل پدر و شوهر حق مالکیت، حق معاشرت با زنان بیگانه و حتي حق حیات را نیز نداشت. پدر هر وقت که خود مي خواست مي توانست دختر خود را بفروشد و یا بقتل رساند. وقتي در میان جوامع متمدن دنیاي قیم یعني رومي ها و یونانیان با زن چنین برخورد صورت مي گرفت میتوان تصور کرد که در جوامع دیگر وضع برخورد با زن و موقف اجتماعي زن چگونه بوده است.

تا آنجا که مسئله به دوره هاي قبل از تاریخ کشور ما رابطه میگیرد از بخش اعظم از این دوران اطلاعي در دست نیست ولي تحقیقات باستان شناسان گواه این حقیقت است که یکي از کانونهاي مهم تمدن بشري در شرق، تمدن آریان یا آریاناست. بنابر همین تحقیقات در اراضي هموار دو سوي هندوکش که افغانستان و ایران امروز را تشکیل میدهد حدود سه هزار سال قبل از میلاد مسیح یعني پنج هزار سال قبل از امروز شهر هاي پر نفوس، صنعت و حرفه و سیستم آبیاري وجود داشته است.

تمدن پنج هزار سال قبل افغانستان یا باختر بصورت آني بوجود نیامد بلکه دنباله، تشکیل جوامع ابتدایي است که سابقه آنرا میتوان تا بیست هزار سال قبل از میلاد مسیح یعني عصر حجر تخمین نمود و آثار باستاني کشف شده در شمال و جنوب غرب افغانستان آثار و شواهدي از زندگي انسان درین خطه در دوران عصر حجر قدیم بدست آمده است.

اگر ما بخواهیم در تاریخ، آنهم تاریخي با چنین قدامت، در جستجوي نقش زن برآئیم فقط میتوانیم از روي نقش ها و آثار باستاني بجا مانده از آن عهد استناد نمایيم ولي خوشبختانه از یك اثر بسیار مهم که عبارت از سرود هاي (ویدا) ست بخشي که از تطاول زمان در امان مانده در دسترس است و میتوان به استناد آن تا حدودي از نقش زن در تمدن (ویدي) آریاناي کهن پرده بر داشت. و اهمیت این سرود ها از آنجاست که مردم آرین وارد مرحله تاریخي شدند.

در سرود هاي ویدي که یگانه اثر قدیم ادبي عصر ما قبل اوستاست از زبان دانایان و سخنوران آن عصر اشعار و سرود هایي منقولست که در ان جمله آثار جمعي از زنان سخنور نیز شامل است.

از آنجاییکه کتاب ریگویدا شامل سرود هاي مذهبي است که بوسیله شخصیت هاي مذهبي که اصطلاحاً (ریشي) خوانده مي شوند سروده شده، آمدن نام و آثار این زنان در یك اثر مذهبي آن عهد خود بوضاحت نشان میدهد که آریایي هاي قدیم در مقایسه با سایر ملل به زن به نظر قدر و احترام مي نگریسته اند. در ریگویدا نام این زنان دانا با سرود هاي شان آمده است :

شهزاده خانم گهوچه Ghocha لوپامودرا Lopamudra ماماته Mamata اواپاله Awapala واندانی Wandani ساسی Sasi و وشوروه Wishorwa.

همانگونه که قبلاً اشاره شد مردم آریانا با سرود هاي ویدي به مرحله تاریخي داخل شدند و به کمك همین منبع تاریخي است که ما تا حدي ، افکار عقاید روش زندگاني و وضع اجتماعي مردم این عصر پي مي بریم، در کتاب اول ریگوید سرود ۱۱۷ که سروده یي از شاهزاده خانم گهوچه است او از معبود هایي که به آنها معتقد است تمنا مي نماید تا به وي فرزنداني دلیر اعطاء نماید.

از ریگویدا که بگذریم در کتاب دیگر باستاني بجا مانده از آریایي هاي قدیم یعني اوستا نیز به اهمیت حریم خانواده تاکید گردیده و زنان و مردان را درین رابطه یکسان مورد خطاب قرار داده است.

در سیناي ۵۳ خطاب ، دختران و پسران آماده ازدواج مي گوید : « اینك بیاموزم و آگاه تان سازم، پندم را بخاطر بسپارید. با غیرت در جهت یك زندگي پاك بکوشید هر یك از شما باید در کردار نیك از دیگري سبقت جوید و از این راه زندگي خود را خوش و خرم سازد. »

از آنچه که گفته آمدیم نباید نتیجه گرفت که زن در آریاناي کهن کاملاً داراي حقوق انساني بوده است. در دوره هایي که آریایي ها هنوز در مرحله دامپروري و کوچي زندگي داشتند مشکلات ناشي از این شیوه، زندگي سهم گیري زن در حیات خانواده را امري لازمي ساخته بود در عین حال توجه به داشتن فرزندان زیاد از عواملي بود که آریایي ها در مقایسه با یوناني ها و رومي ها با زن رفتاري انساني تر داشتند ولي در این عهد نیز زنان آریایي از داشتن حق مالکیت و میراث محروم بودند. مرحله تمدن و شهر نشیني زن را بیشتر منزوي ساخت دختران حقیر بودند و افتخار خانواده ها بداشتن پسران زیاد بود به منبع قدرت خانواده و وارث خاندان بشمار مي رفتند و سلطه، هخامنشیان بر باختر تحولات جدید اجتماعي را موجب شد.

ایرانیان در دوران هخامنشیان داراي یك جامعه طبقاتي بودند که شامل روحانیون ، جنگجویان و دهقانان بود که بعد ها طبقه جدید صنعتگران نیز به آن افزوده شد. در جامعه یي با چنین مرز بندي طبقاتي مسئله اصل و نسب بسیار مهم بود.

کورس هفتمین پادشاه هخامنشي در سال ۵۵۹ ق م اساس یك امپراتوري بزرگ را نهاد که سرزمین باختر نیز ضمیمه این امپراتوري گردید سلطه هخامنشیان بر افغانستان حدود دو قرن را در برگرفت. این تسلط دیرپا طبعاً موجب گسترش عادات و آداب و رسوم و عنعنات ملت فاتح بر کشور تحت تسلط گردید که از آن جمله به بعضي از آن تاثیرات مختصراً اشاره مي شود. طوریکه قبلاً اشاره شد حفظ نسب لازمه حفظ نظام طبقاتي است بنا بر این در ایران قدیم نه تنها ایراني حق وصلت با غیر ایراني را نداشت بلکه افراد یك طبقه از ازدواج با طبقه دیگر محروم بودند تا خون موروثي که در عروق خانواده جریان دارد از طریق اختلاط با خانواده بیگانه فاسد نشود. بنا بر این ازدواج میان اقوام و خویشاوندان نزدیك صورت مي گرفت.

ایرانیان درین کار بحدي جلو رفتند که بقول (آرتور کریستن سن) ازدواج با محارم نزدیك نیز صورت مي گرفت در مورد ازدواج بین خواهر و برادر شواهد تاریخي غیر قابل انکار موجود است مثلاً ازدواج (بهرام چو بینه) یکي از پادشاهان با خواهرش (گردیه) یکي از راههاي حفظ نظام طبقاتي و حفظ نسب این بود که اگر شخصي وفات مي نمود زنش را به یکي از نزدیکان شوهر متوفي تزویج مي کردند در حقیقت زن بیوه مانند یك متاع مادي به خانواده متوفي به میراث مي رسید. تداوم نسل منوط به داشتن اولاد ذکور بود و از کسیکه پسر بدنیا نمي ماند وي مقطوع النسل بشمار مي آمد و وجود یا عدم داشتن دختر یکسان بود.

تسلط هخامنشیان بر سرزمین باختر (یا افغانستان امروز) تا حدود ۳۳۰ ق م ادامه یافت تا اینکه جهانگشاي دیگري از یونان یعني اسکندر مقدوني به جانب شرق لشکر کشید و با سرنگوني هخامنشیان تمام مناطق ایران و افغانستان امروز تا بخش بزرگي از هند را متصرف گردید. به قول مرحوم پوهاند حبیبي « در تسلسل جریانهاي بزرگ تاریخي که در تشکیل فرهنگ افغاني و هنر و صبغه فکري قدیم، بعد از فرهنگ ویدي، اوستایي و اثرات مدنیت هخامنشي اثر بسیار بارز و بزرگي داشته، لشکر کشي هاي اسکندر مقدونیست در خاك افغانستان به جریان قدیم فرهنگ و زندگاني و فکر و مدنیت این سرزمین را رنگ جدید و برازنده یي داده است ... »

براي درك تاثیرات اجتماعي نفوذ یونانیان بر باختر لازم است بصورت مختصر وضع اجتماعي و موقعیت زن در نظام خانواده را در یونان قدیم مورد بررسي قرار دهیم تا تاثیرات آن بر حیات اجتماعي افغانستان قدیم مشخص گردد.

در یونان قدیم خانواده، ایجاد و بقاي آن تابع مذهب و سلطه، پدر خانواده نیز ناشي از عنوان ریاست مذهبي بوده است مذهب در یونان قدیم مانند روم قدیم خصوصي و مربوط به هر خانواده بود به این معني که هر خانواده روح نیاکان خود را پرستش مي کردند بنا بر این مذهب رومیان و یونانیان قدیم داراي دو خصوصیت بود یکي تعدد خدایان ودیگري محدود بودن آن به حدود هر خانواده.

هر پدر خانواده تا زنده بود انسان و به محض اینکه مي مرد در ردیف خدایان مورد پرستش باز ماندگان قرار مي گرفت و اگر کسي در یك خانواده خدایان خانواده دیگري را پرستش میکرد کافر و مشرك شمرده مي شد. نکته قابل تذکر اینکه در حقوق یونان و روم قدیم قرابت و خویشاوندي رسمي جز بین مرد با مرد و جو نداشت یعني زن با زن از نظر حقوقي خویشاوند تلقي نمي شدند هرچند با هم خواهر مي بودند و به همین صورت خواهر و برادر با هم خویشاوند حقوقي نبودند فقط با هم خویشاوند طبیعي بشمار مي آمدند وارث پدر نیز فقط به خویشاوندان حقوقي مي رسید. بنا بر این زن از ارث محروم بود افلاطون و پلوتارك، میگویند : قرابت رسمي حقوقي بین افراد ذکوري وجود دارد که اشتراك در پرستش یك مذهب و خدا داشته باشند هرگاه دو مرد در پرستش به حد مشترکي برسند قرابت حقوقي با هم دارند.

همانگونه که قبلاً اشاره شد هر خانواده از خود خدایان مخصوص داشت که آنرا پرستش مي کرد بنا بر این دختر بعلت اینکه با ازدواج از خانواده جدا مي شد و باید در خانواده شوهر خود خدایان مخصوص آن خانواده را پرستش کند مورد . علاقه افراد خانواده خود نبود.

در یونان قدیم ازدواج امري مذهبي و مقدس بود زیرا شوهر به زن بیگانه یي اجازه میداد تا بر اسرار مذهبي خانواده وي واقف شده و خدایان خانگي وي را بپرستد و به این ترتیب در (ناموس) خانواده شریك گردد.

(ناموس) کلمه، یوناني است که در اصل به معني شریعت و قانون است و معاني دیگري چون اسرار و آداب و رسوم نیز دارد. اینکه در یونان قدیم زن بعد از ازدواج و شامل شدن در جمع خانواده شوهر واقف بر اسرار مذهبي خانواده مي شد، بعد از مرگ شوهر نیز بخشي از مایملك همان خانواده بود و مجبور بود حتي بر خلاف میل خود با یکي دیگر از اعضاي خانواده شوهر ازدواج نماید زیرا او از نظر مذهبي در ناموس خانواده شامل بود.

هر چند با مرگ اسکندر مقدوني امپراتوري بزرگ وي بسرعت تجزیه شد ولي تاثیرات طرز فکر یوناني بر جامعه باختر تا ظهور اسلام یعني یك هزار سال باقي ماند. بعد از تجزیه امپراتوري اسکندر قدرت جدیدي این بار از هندوستان قامت بر افراشت که عبارت از امپراتوري (موریا) در هند است. امپراتوري موریا هر چند نفوذ کوتاه و زودگذري بر افغانستان قدیم داشت و در باختر دولت (یونانو باختري) تأسیس شد ولي در همین مدت کوتاه مبلغان مذهبي مذهب (بودیزم) را در شرق آریانا انتشار دادند که بعداً شمال باختر را نیز فرا گرفت و به این ترتیب زمینه براي تلفیق عناصر فرهنگي، هنري و عقیدوي باختر از یکطرف و هنر و فرهنگ و دین بودایي با آثار هندي خود از جهت دیگر فراهم آمد که این دوره را (گریکوبودیك) مي خوانند.

از آثار باستاني مربوط به این دوره میتوان دریافت که صنعت و هنر مرحله تکامل را پیموده اند مجسمه هاي ساخته شده درین دوره ظرافت و زیبایي خاص خود را دارد در نقش هاي کنده شده بروي پارچه هاي عاج که از بگرام بدست آمده طرز لباس زنان آنوقت باختر را میتوان تشخیص داد در نقش هایي که از هده بدست آمده است نذر دهندگان به معبد را وضاحت خطوط چهره و طرز لباس آنان میتوان دید که در میان آنان زنان با چادر هاي بزرگ پیراهن هاي دراز که تا نصف ساق پا مي رسد و تنبان هایي که در بند پا چین خورده و بسته شده است دیده میشوند. این طرز لباس پوشیدن هنوز هم در کشور ما معمول است.

پایان سخن :

از آنچه که گفته آمدیم میتوان نتیجه گرفت که آریایي هاي قدیم در عهد تمدن(ویدي) و اوستایي در مقایسه با تمدن هاي یونان و روم به زن به دیده احترام و قدر مي نگریسته اند. بعداً با هجوم بیگانگان به باختر یك سلسله عادات و رسوم هخامنشي ها در میان مردم باختر رواج یافت و به مرور زمان شکل عنعنات ملي را بخود گرفت و چون دوام این دوره ها طولاني بود این عادات چنان در اندیشه ها تعمیق یافت که خارجي بودن و بیگانه بودن آنها فراموش گردید.

با رسیدن اسلام به این خطه رسوم و عنعناتي که مغایر با اصول و تعالیم این دین مقدس بود مردود شمرده شد اما بعضي از این رسوم و عادات که مغایر با حقوق مشروع زن از نظر اسلام بود با تغیر در ظواهر امر در بعضي از مناطق همچنان حفظ شد مثلاً محروم دانستن زن از حق میراث و ملکیت یا وادار نمودن زن بیوه به ازدواج اجباري با یکي از اعضاي فامیل شوهر متوفي و بعضي از رسوم و عادات دیگر در حالیکه این آداب و رسوم همانگونه که توضیح شد زاده نفوذ قدرتهاي بیگانه بر سرزمین باختر بوده نه در میان مردم آریاناي قدیم سابقه داشته و نه اسلام آنرا به رسمیت مي شناسد.

بهبود وضع فامیلهای افغان

پوهیالي لیلما «یما»

بهبود وضع فامیلهاي افغان موضوعي است که در این اواخر مورد توجه حلقات ملي و بین ـ المللي قرار گرفته است.

ما زماني میتوانیم به وجه نیکو از رشد زنان و دختران صحبت نمایبم که زنان و دختران را در متن خانواده و خانواده را در متن جامعه و جامعه را در ارتباط به جامعه جهاني مورد مطالعه قرار دهیم.

متأسفانه ما در جامعه، خویش تا کنون هیچ نهادي نداشته ایم که بتواند نخست خانواده ها را مورد مواظبت دایمي قرار دهد و ثانیاً به رشد اعضاي آن اعم از زن و مرد و دخترو پسر بپردازد.

نهاد هایي که در گذشته در ارتباط به زنان و خانواده در کشور ما وجود داشت نه تنها کاري را در جهت رشد اعتقادي ، فکري و اجتماعي زنان طوري که جامعه، اسلامي ما توقع داشت و توقع دارد، انجام نداد؛ بلکه یکنوع تضادي را بین اعضاي خانواده و سایر نهاد ها به میان آورد که پرابلم هاي زیادي را در جامعه سبب شد که تا کنون اثرات منفي آن موجود میباشد.

در شرایطي که جامعه ما قرار دارد و یك دوره، طولاني تسلط کمونیستها را پشت سر گذاشته است اینك آهسته آهسته میخواهد به پاي خویش ایستاده شود همانطوري که به سایر نهاد هاي جامعه باید توجه مبذول داشته شود بهبود وضع خانواده ها نیز باید مورد توجه قرار بگیرد. روي این دلیل نباید صرف به الفاظ بسنده کرد بلکه عملاً باید دست به کار شد و در این زمینه فعالیتهاي عملي را انجام داد .

یکي از این فعالیتها این است که باید هرچه عاجل مرکز منظمي در سطح امارت اسلامي در مورد خانواده ها پدید بیاید که خانواده ها از آن طریق مورد مواظبت دایمي قرار بگیرند و آنها بتوانند به کمك آن مرکز نخست به حل پرابلم هاي خویش بپردازند و ثانیاً رشد و انکشاف سالم بیابند تا به حیث اعضاي سالم جامعه، اسلامي به حقوق حقه، خویش که اسلام به آن قایل است؛ دست پیدا کنند.

براي این منظور ما میتوانیم از امکانات دست داشته، موجود استفاده نمایبم . یکي از این امکانات دست داشته، موجود کلینیکهاي حمایه طفل و مادر است که در سراسر کشور فعالیت دارند و توسط ریاست حمایه طفل و مادر وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان اداره میشوند.

از امکانات این مرکز میتوان نه تنها در بخش صحي استفاده، اعظمي کرد بلکه امداد هاي بشري هم میتواند از آن طریق به خانواده هاي افغان برسد. و براي اینکه این کمکها به صورت درست در دسترس خانواده ها قرار بگیرد لازمست تا از تمام خانواده هایي که تحت پوشش هر مرکز قرار دارد یك احصائیه دقیق از طریق آن مراکز به عمل آید و از روي آن ، پرابلم ها و نیازمندیهایي که آن خانواده، ها دارند مشخص گردیده و به رفع آن مطابق پلانهاي مطروحه بر اساس مشي امارت اسلامي افغانستان کوشیده شود و بعداً براي اینکه اکثر پرابلم ها ناشي از جهل و ناداني و بي خبري است، در رشد و تکامل اجتماعي و معنوي آنها از طریق این مراکز اقدام به عمل آید. طبعاً چنین فعالیتها ایجاب میکند تا در تمام عرصه ها اعم از اقتصادي ، اجتماعي و فرهنگي به خصوص سواد آموزي و تعلیم و تربیه و فعالیتهاي مربوط به رشد فکري مد نظر باشد ، که این خود ایجاب میکند تا به تدریج در پهلوي فعالیتهاي صحي و طبي و بشري در این مرکز بخشهاي اقتصادي اجتماعي و فرهنگي نیز ایجاد شود و افراد خانواده ها در آن تنظیم شوند و از طرف دیگر در فعالیتهاي مربوط به آن، در هر رشته و مسلکي که هستند به فعالیتهاي سالم و مفید به حال خود شان و مناسب جامعه، شان بپردازند.

نکته، قابل توجه این است که مؤسسات بین المللي همانند ملل- متحد و صلیب سرخ و نیز کارکنان مؤسسات غیر حکومتي بین ـ المللي به جاي آنکه انرژي خویش را به صورت مجزاء و دور از هم به مصرف برسانند بهتر خواهد بود که هر نوع کمك مادي و معنوي خویش را از طریق این تشکیلات یعني کلینیك حمایه، طفل و مادر به خانواده ها و از آن طریق به فرد فرد مردم افغانستان به سهولت برسانند.

لازم به یاد آوري است که به هر اندازه، که فعالیتها انسجام پیدا کند به همان اندازه کمکهاي بین المللي بهتر میتواند جذب شود و موازي با آن شکل اداره، کلینیکها منظم تر و پیشرفته تر خواهد شد و بهتر خواهد توانست در خدمت خانواده ها قرار بگیرند و به این ترتیب بهبودي در وضع فامیل هاي افغان به میان آید.

ما در حالیکه آرزو داریم [illegible] به اثر سعي و تلاش و اقدامات عملي هرچه زودتر کلینیکهاي موجود حمایه طفل و مادر به مراکز فعال مشاوره و رهنمایي خانواده ارتقاء پیدا کنند بدین باور هستیم که این مراکز بدون یك رهبري آگاه و چیز فهم و دلسوز به حال خانواده هاي افغان نمیتواند کار خود را به پیش ببرد. به این جهت از تمام شخصیتهاي صاحبنظر و با تجربه در عرصه، ملي و بین المللي از طریق هفته نامه «شریعت» که توانسته است در طي سه سال اخیر بیشترین سهم را در جلب توجه به خانواده ها و وضع زنان و دختران از طریق انتشار مقالات و سایر فعالیتهاي اجتماعي ، فرهنگي [illegible] دعوت به عمل مي آوریم که صمیمانه امارت اسلامي افغانستان را در این امر [illegible] اشتراك فعال خویش در فعالیتهاي مربوط به [illegible] دختران و خانواده ها [illegible] همکاري نمایند.

د مارچ اتمه
د ښځو نړیواله ورځ

پوهنیار دیپلوم انجنیر شریفه

د مارچ اتمه نیټه د ښځو د نړیوال پیوستون او د ښځو په وړاندې د موجودو مشکلاتو او پرابلمونو د څرګندولو او ورسره د همکارۍ د جلبولو او غبرګون ورځ ده . لمړی ددې نړیوال جشن په مناسبت د هیواد ټولو خویندو ته مبارکي وایم.

که د ګران هیواد تاریخ ته نظر واچوو د ښځو رول او مقام په ډېرو برجسته ټکو کی ښکاری. د بې شمیره مثالونو له جملې نه غواړم پدې اړه صرف دوه وو تاریخي لحظو یا پیښو ته د لوستونکو پاملرنه را وګرزوم.

اول – لکه چې زموږ د ګران هیواد افغانستان د جوړېدلو لپاره ملي، منطقوی او نړیوال شرایط منځ ته راغلل نو دغه وخت د زرګونو میرمنو او میندو له جملې نه زرغونې انا هم ددې تدبیر او قربانی لپاره خپله هدیه یعنی احمد شاه بابا د خپلې غیږې نه پلی کړی وو په هماغه وخت د افغانستان د نوی بنیاد شوی قلمرو د حفاظت لپاره په کندهار کی د وخت سیاسی مشرتابه د ملک د حفاظت په خاطر د پایتخت نه د دیوال دراګرزولو تدبیر مطرح کړ څکه تر هغه وخته ډېر داسی شوی وو چې د خراسان او اریانا په قلمرو او نور جهان کې جوړ شوی مدنیتونه او سیاسی واکمنی د دیوالونو تر شا ساتل کیدلې. زرغونې انا د خپل سیاسی تدبیر ،د دوراندیشی او تاریخي واقعاتو د ډېر معقول تحلیل له مخې د دې تدبیر په ردولو د وخت سیاسی مشرتابه او د افغان راتلونکو نسلونو ته د ملک د دفاع تاریخي درس ورښود دا تاریخي درس چې د پناه ګاوو وسلو او وسیلو په ځای د اسلامی ملک د دفاع په کار کی د ایمانی جذبې او اسلامی وروړګلویز پیوستون برجسته کوی، تر اوسه پورې د افغانستان د نظامی دفاعی پالیسی یو ټاکونکی فاکتور پاتی شویدی. موږ وینو چې څنی اسلامی هیوادونه او واکمنی یې د خپل هیواد د دفاع د محکمولو لپاره د وسلو د سیالی په کار کی د ټولنی د اقتصادی ریزرفونو زیاته برخه په کار اچوی خو په نتیجه کی یې خپلی ازادی او خپلواکی ته د ګتی رسولو په ځای نوی خطرات او نقصانونه رسولی او اولس ته یې د اقتصادی ستونزو پیټی دروند کړیدی څه فکر کوی ؟ که دا دیوال جوړ شوی وای ایا نن به د ځمکی په مخ د افغانستان غوندی سیاسی قلمرو پاتی وو؟!

دوهم – د حوت د دریمی نیټی پیښه چې موږ یې څو ورځې مخکې نمانځنه وکړه : روس د خپل زوروور جنګی ماشین سره په کابل راوخوت. دلته سرې هم ډېر وو. چا به ویل دا خو د جرمن فاتح او چا به ویل د ټولی دنیا فاتح دی. او چا به د دوی د اټومی قدرت قصی کولی دلته هم د روس سره د نښتی او جګړې په طریقه باندې سوچونه او فکرونه کیدل خو ځوانو نجونو او ښځو ددې جنګی ماشین سره د برخورد یو ازینی او صحیح طریقه د کابل په سړکونو ننداری ته وړاندې کړه .

دا د اسلامی افغانستان د ښځو د برخې او مقام صرف یو دوه نمونې دي چې زمونږ په ټولنه کی د مسلمانانې میرمنې کرکتر او مقام ښودلای شي.

تر کومه حده چې په اسلامیٔ نظام کی د ښځو د مقام خبره ده پدې هکله پوره مفصل او ژور بحث ته ضرورت دی خو زه د الهی پاک کلام د «سورة نمل » مبارک متن ته د مستنکرینو او پوهی د خاوندانو توجه را اړوم.

دلته الهی کلام په ډېر بهترین اسلوب او زړه راښکونکی عبارت د ښځې مقام تاریخته وو ته وروپیژاند. « ما کنت قاطعة امراً حتی تشهدون» همدا لنډه جمله د ملکه سبا د عقل کمال او د سیاسی تدبیر ښکلا او لیاقت بیانوی. د مشوری په بنیاد د یوې ښځې د سیاسی تدبر او سیاست دا ښوونه نه یوازې د ښځې د مقام د احترام او لوړ والی څرګندونکی ده بلکه په اسلام کی د سیاسی واکمنی او اداری د تنظیم یو ښکلی سبق هم وو او دی .

زموږ هیواد افغانستان کی ښځې د هیواد د موجودیت په تاریخی مسیر کی د روښانه رول او په جهاد کی د قربانیو ډکو ویاړونو سره سره تر اوسه د اسلام د پاکو ارشاداتو په رڼا کی د خپلو حقوقو او هغو اسانتیاوو نه چې د اسلامی شریعت په حدودو کی ښځو ته شته دی، ندی برخورداره شوی. په اکثرو حالاتو او سیمو کی داسی رواجونه او عنعنات د ښځو په سرنوشت مسلط دی چې د اسلام سره هیڅ رابطه نلری دا د مسئلی داخلی عوامل دی د کومو په استدلال چې څنی افغانی سیاست بازان وخت په وخت ځانونه د اسلام د دښمنانو غیږې ته سپاری . خو ددې مسئلی خارجی عامل هم شته او هغه دا چې د جهانی تفکر ددې ژور بحران په موجوده شرایطو کی غیر مسلم سیاستونه او متفکرین د اسلام په رابطه د معلوماتو د کمبود ، او سختی اشتباه او جفا سره مخ دی. دوی زموږ د ملک موجوده ستونزې اویا په مجموع کی د اسلامی ملکونو وروسته والی د اسلام کمبود ګڼی او پدې خبره ټینګ نښتی دي چې « دین له سیاست نه جدا دی » .

حقیقت دا دی چې دا ټولی ستونزې او مشکلات، موجوده حالت او په هغه کی د ښځو رقت باره ژوند د اسلام کمبود نه بلکه د اسلام نه د انحراف زیږنده او میراث دی. او دا د تیرو رژیمونو د انحرافی تګ لارو او په کورکورانه ډول د پردیو او ټولنی سره د ناسازګاره عقیدوی سیاسی حرکاتو نتیجه ده .

موږ د بشری نړی مشهورو د ستاوردونو او د انکشاف او ترقی په پروسه کی ګټورو برپاوو ته د اسلام د ښوونی له مخې په درنه سترګه ګورو او په زده کړه او لازیات انکشاف کی یې غواړو شریک شو. خو ددې تر څنګه هغه بشری فاجعې او جنایت له پام نه غورځول ندی پکار چې د همدې «تمدن» زیږنده دی. د ساینس او تکنالوژۍ بهیر که له یوې خوا بشر ته د ژوند د اسانتیاوو حیرانونکی برپالیتوبونه نصیب کړی له بلې خوا یې بشری نړی د ژوند په ډېرو برخــو کی د یو لوی تاتار او فاجعې کندې ته ور نږدې کړیده .

د مغربی بې دینه حرکت او په لیونتوب سره د دنیایی سازو باز ، پیسو او اسبابو د لټون او مینډلو حریص تلاش نه دراوتلوفجایعو په لړ کی یو هم د ښځو د مقام د ټیټولو او استهزا کولو مسئله ده همداوجه ده چې نن په امریکا کی په هر واوو دقیقو کی یوه ښځه لت و کوب او په همدومره وخت د یوې ښځې په عزت حمله او تعرض کیږی . که روسی پیغلی ته وویل شی چه ولی نکاح نکوی او داسی در بـه درګرځی نو ډېر ژر دا ځواب ورکوی. « زه د ځان لپاره ژوند کوم» او یا دا چې زه خو د چا نوکره نه یم چې بچی به زیږوم او روزم به یې. او اوس خو د وروستی ریفورمونو سره په روس کی ښځه دیوه سپک لاس ګاډی په څیر په یوه کــــرانی ابزار [illegible] کــه نور یورپ ته وګورو [illegible] حـــــالات ددې نه هم په څو واره بد تر دي.

موږ په کوم جرئت او د [illegible] برپاوو او اسانتیا وو په بنا په ډېر سترګو د امریکا پاتو په خوښه د ښځو مسئله طرح او حل کولای شو آیا دا زموږ ښځو ته د [illegible]

د افغانستان ښځې مسلمانانی دي او د اسلامي شریعت په رڼا کې د خپلو ناخوالو او مشکلاتو حل او [illegible]

موږ د سر په سترګو ویلو د افغاني میرمنو حقوقو په هکله د امریکا تشویش او [illegible] رابطه د امریکې د فشار لاندې د ملل متحد تعزیراتو د افغانستان د ښځو مشکلات نور هم زیات کړیدي یو خوا ته اقتصادي تعزیرات او بلې خوا د اسلامي امارت د ټینګښت په وړاندې د نورو خنډونو تقویه او تغذیه د اسلام په چوکاټ کې د هغو اصلاحاتو په بهیر کې خنډ راولي. چې موږ [illegible]

درنو لوستونکو ! موږ په ســــوزېدو [illegible] او محرومیت په [illegible] قربانیو لپاره [illegible] مسلمانانې میرمنې [illegible] سکون یوازې هغه [illegible] چې الله «ج» ته د [illegible] ووایي د شکر خدای [illegible] دی پیدا کړی یم [illegible] خپل خدای«ج» [illegible] مند یو چې افغانان [illegible] ملک کې ددې عظیمې قربانۍ په موقع ژوند کوو .

نو موږ په مړو او [illegible] کیږو په ځکه چې دا د هرې شمعې حال او سرنوشت دی.

په کندهار کې یوه زیاته اندازه مخدره مواد وسوځول شول

کندهار : د کندهار ته د رارسیدلو خبرونو تر مخې پرون د رواني میاشتې په لومړۍ نیټه په کندهار کې د ولایتي مسؤولینو او بهرنیو خبریالانو په مخکې نږدې دري سوه پنځه پنځوس کیلوګرامه هیرو ئین او څلور زره او پنځه سوه کیلو ګرامه چرس وسوځول شول .

د کندهار د پولیسو منابعو وویل چې دغه نشه یي توکي په بیلا بیلو پیښو او پلټنو کې نیول شوي وچې دا دي په یو ځای وسوځول شول ، څه موده مخکې هم یوه زیاته اندازه مخدره توکي په کندهار کې له منځه یوړل شول ، د کندهار ولایتي مسولینو وویل چې اسلامي امارت تل په دې هکله ګټور ګامونه اخیستي او نوره هم هڅه کوي تر څو په بشپړ ډول دغه خطرناک شی له منځه یوسي ، همدارنګه دوی له نړیوالې ټولنې غوښتنه وکړه چې باید په دې هکله د اسلامي امارت سره مرسته وکړي ، او بزګر دې ته تشویق شي چې د کوکنارو او چرسو له کرلو لاس واخلي او په بدل کې یې د هیواد د اړتیا وړ شیان وکړي .

پاتې د کابل د پټمنو او مسلمانو ...

نورو بهرنیو خبري آژانسونو او کورنیو ورځپاڼو ښځینه خبریالانو د ملګرو ملتونو د اداري ، بهرنیو او کورنیو موسسو او انجوګانو ښځینه استازو د انګلستان د مسلمانو ښځو او د سعودي عرب د ښځو دوه تنو نمایندګانو د کابل ښار عامو اوسیدونکو او د افغانستان د اسلامي امارت د ټولو وزارتونو ښځینه استازو ګډون کړی و د قرآن عظیم الشان له تلاوت وروسته د مارچ د اتمې یا د ښځو د نړیوالې ورځې په مناسبت د عالیقدر امیر المؤمنین پیغام د چارو د اداري د لوی ریاست د مطبوعاتي دفتر د رئیس محترم مولوي عبدالسلام مسلم له خوا ولوستل شو . د پیغام له لوستلو وروسته د پل تخنیک یوې استادې محترمې صدیقه «صدیقي» د « په اسلام او نورو ټولنو کې د ښځې دریځ » تر سرلیک لاندې خپله لیکلې مقاله ولوستله وریسې د هیواد ورځپاڼې خبریالې محترمې ماه جبین خلیلي لنډه وینا وکړه او وریسې د سعودي عربستان د ښځو په استازیتوب محترمې ام عبدالله د ښځو د مقام او مرتبې په اړه په انګلیسي ژبه اوږدې خبرې وکړې چې د یوې افغانۍ خور له خوا ژباړل کیدلې . بیا د غونډې د اناثیه مکتب مدیرې محترمې نجیبه شریف له خوا د ملالۍ زیږنتون په استازیتوب محترمې ډاکټورس زحل ته بلنه ورکړل شوه چې د « ښځه په ټولنه کې » تر سرلیک لاندې یې خپله مقاله ولوستله . همدا راز په دې غونډه کې د محترمې پوهنیار انجنیر شریفي له خوا د « مارچ په اتمه د ښځو د ښځو نړیواله ورځ » تر سرلیک لاندې مقاله او د محترمې خور دوکتورس ساجدې « شریف » له خوا د « طب د اسلام له نظره » تر سرلیک لاندې مقالې ولوستل شوې وروسته د مرستون د ښځو د برخې امرې محترمې شاکره فدا ددې ورځې د اهمیت او د اتاترک د روغتون نرسې محترمې خورې سعیدې ددې غونډې د ارزښت په اړه خبرې وکړې . همدا راز په دې غونډه کې د رابعه بلخي د روغتون د ډاکټرانو او کارکوونکو هرې یوې محترمې خور توریپکي ، محترمې خور هما محترمې استاد وړانګې له خوا هغه شعرونه چې په همدې اړه یې لیکلي وو ولوستل شول.

غونډه د یو پریکړه لیک په لوستلو سره چې د رابعه بلخي د روغتون د رئیسې محترمې دوکتورس ماریتا نوابي له خوا ولوستل شوه د غرمې په دولس بجو او پنځلس دقیقو پای ته ورسیده . همدا راز د همدې ورځې په مناسبت زموږ دوه ویشت تنه بندي هیوادوالې ښځې هم له بند څخه خوشې شوې چې دوه تنو د نورو خوشې شویو بندیانو په استازیتوب په دې غونډه کې خبرې وکړې او د اسلامي امارت له زړه سوي او عاطفې ته یې د کدا حرکتي ستاینه

سلطانه رحیم

بقیه قطعنامه گردهمایي زنان ...

جامعه بین المللي واقعاً خواستار کمك به زنان افغانستان است باید به این تعزیرات پایان دهد .

۸- افغانستان در طي بیش از بیست سال جنگ صدمه دیده و زیر بناي اقتصادي آن ویران شده است زنان افغان در بخش بهداشت و درمان و کمك هاي دیگر بشري نیازمند کمك هاي جامعه، بین المللي اند .

۹- ما زنان مسلمان افغان فرصت را براي اعلام حمایت از زنان مظلوم چیچن مغتنم شمرده و نفرت و انزجار خود را از تجاوز روسها به حریم کشور آزاد چیچن ابراز میداریم و از زنان جهان تقاضا داریم که در روز جهاني زن فریاد مظلومانه زنان چیچن را که زیر بمباران هاي وحشیانه روسها در این سرزمین مظلومانه به شهادت مي رسند بگوش جهانیان برسانند.

۱۰- ما ضمن حمایت از مبارزه بر حق زنان مسلمان کشمیر و فلسطین از جامعه بین المللي مي خواهیم تا به تعزیرات ظالمانه یي **که بر علیه مردم مسلمان عراق وضع گردیده و موجب شهادت هزاران انسان بخصوص زنان و اطفال گردیده است پایان دهند.**

والسلام

پاتې د وران هیواد بیا رغونه ...

د منابعو د سروې او ګټې اخیستنې په برخه کې به په پوره اندازه پانګه واچوي.

دا زیاته کړه چې ددې بانک د فعالیتونو بریل ارخ به د کانونو د کشف او ایستلو او د نورو ټولګټو (عام المنفعه) پروژو د پراختیا په خاطر پانګه اچونه وي . لکه څنګه چې موږ پخوا هم په ۱۳٤۳ هجري لمریزې کال کې د ترانسپورټ په سکټور کې یو نیم ملیونه ډالره پانګه اچولې وه وروسته د افغانستان د اسلامي امارت محترم رئیس الوزرا ، د خپلو خبرو په ترڅ کې وویل چې اوږدو جګړو زموږ د هیواد اقتصادي بنسټونه ویجاړ کړیدي ، او زموږ ځوریدلې خلک په سخت اقتصادي حالت کې ژوند کوي. په دې حقیقت باندې په پوهیدو سره ټول پانګه وال او ملي سوداګر مسئولیت لري چې د ټولګټو پروژو د جوړولو په لاره کې له هیڅ راز هڅو او هاند څخه ډډه ونه کړي.

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد دودې ، د خلکو د ژوندانه د سطحې د لوړولو او په هیواد کې د مالي حالت د پیاوړتیا په لاره کې د دغه شان ګټورو فعالیتونو بشپړ ملاتړ کوي.

ده په پای کې وویل چې د افغانستان اسلامي امارت خلکو ته د خدمت په لاره کې ستاسو ښه احساس ته د قدر په سترګه ګوري او د تجارتي چارو او د نورو اقتصادي سکټورونو په کار کې د امکاناتو او اسانتیاوو د برابرولو په لاره کې هیڅ راز هلې ځلې نه سپموي له دې امله چې ستاسې بیرته هیواد ته راستانه شوي یاست او چمتو یاست چې خپلو خلکو ته هر اړخیز خدمتونه وکړئ د لوی خدای (ج) له دربارنه په دې لاره کې تاسو ته د لا زیاتو بریالیتوبونو هیله کوم .

د دغې کتنې په پای کې محترم رئیس الوزرا ، د دغه بانک د جوړولو د چارو د ګوندي کولو په برخه کې اړوند ومراجعو ته لازمې لارښوونې وکړې .

پاتې د ښځو د نړیوالې ورځې په مناسبت د عالیقدر ...

قربانی له ژمنې سره راپورته شول ، شرعي فتوایې واخستله او د فساد په ضد یې جهاد پیل کړ ،

ددیرو زیاتو ستړیاو او کړاوونو په ګاللو او د لسګونو زرو قیمتي ارواحانو په قربانولو سره الحمد لله هیواد له ویش او تجزیې څخه وژغورل شو ، اسلامي شریعت چې د تاسې ، ټولو هیوادوالو او میلیونونو شهیدانو کرامو « رح » ارمان و په ټوله معنی په هیواد کې پلي شو امنیت ټینګ او د هیوادوالو سر ، مال عزت او ناموس خوندي شو ، په هیواد کې د اسلامي حکومت او نظام ستنې ټینګې شوې او د هیواد د بیا ودانولو کارونه په تش لاس او تش ډګر له صفر څخه پیل شول ، تر اوسه پورې الحمد لله ډیر کارونه شوي دي او امید لرو چې د الله تعالی په فضل او مرسته به نور هم پر مخ ولاړ شو که څني جزئیات کله نا کله د څني د ستوري افرادو له خوا مینځته راځي پر هغوي باید مایوس نه شو .

: د دغه بختور نظام له برکته ثن تاسي هم د نړۍ له سیالانو سره سمه سیالي کوئ او د پوره ډاډ ، اطیمنان او امن په فضا کې د ښځو نړیواله ورځ لمانځئ؛

زه دا منم چې لا اوس هم ډیرې ستونزې لرو او هیواد مو په سیاسي ، اقتصادي او نورو زیاتو کړاوونو کې راګیر دی ، د هیواد د دښمنانو په لمسون او ښکاره لاس وهنه د هیواد په یوه کمه برخه کې جګړه روانه ده د نړۍ اسلام دښمنه هیوادونه د اسلامي شریعت د پوره نافذولو او په ټیټلو ملي دودنو او روایاتو د کلک درېږ له امله دښمني راسره کوي ، اقتصادي بندیزونه را باندې لګوي ، بد تبلیغات را پسې کوي او فتنې راولاړوي

له دې واړو سره سره موږ ته د هیواد د خاورې ، تمامیت او بشپړتیا ، ملي خپلواکۍ او استقلال د اسلامي شریعت پوره پلي کیدل ، او د خپل پت او عزت خوندي توب ، تر هر څه مهم او د ویاړنې وړ دی ، د ستونزو مقابله په لوړ همت ، ټینګ عزم او توکل په پوره صبر او متانت سره کیدای شي ، په تیره بیا د یوه مومن ولس لپاره چې د الله تعالی په فضل او مهربانۍ باور لري ، دغه د نیاوي ژوند د اخرت د تل پاتې ژوند د ښیرازه کولو ذریعه او وسیله ګڼي د ستونزو زغمل آسانه کار دی

تاسي ته معلومه ده چې په نړۍ کې ډیر ولسونه له دومره ستونزو او کړاوونو سره لاس او ګریوان دي چې زموږ ستونزې ورته هیڅ دي ، د چا د ظالمو تیري کوونکو له لاسه د بدن غوښې په امبور پرې کیږي ، څوک د طبیعي افتونو (زلزلو ، سیلابونو او بحري توپانونو) له امله د خپلو خپلوانو مړي نه شي پیدا کولی؛

په موږ او تاسي لازمه ده چې د الله تعالی په نعمتونو شکر وباسو د الله تعالی بندګي په مینه او اخلاص او پوره پابندي سره وکړو تر څو الله تعالی ستونزې را څخه واخلي او نعمتونه را زیات کړي؛

تاسي ته معلومه ده چې کفري نړۍ د ښځو د حقونو په نوم څومره زیات او بد تبلیغات را پسې کوي او دوی د ښځو حقونه یوازې هغه غربي ناولې دود او کلتور ته وایي چې ښځې پکښې سپکې ، بې عزته او د لوبتکي حیثیت لري ، مسلمانې بیبیانې ، له هغسي حیثیت څخه کرکه کوي او له هغسي حال څخه له الله تعالی څخه په زرګونو کرته پناه غواړي ،

بد ضمیره او بد نیتي کافران زموږ د بې وزلو ،وږیو تږیو ، خوبندو د لوږې نیو اړتیاوو خوراک ، څښاک ، پوښ او سر پناه هغومره نه غم غوري او نه یې مرسته کوي لکه څومره چې غرضي تبلیغات کوي:

زما غوښتنه له تاسي څخه دا ده چې د خپل دیانت ، وقار او لوړ حیثیت په ساتلو صبر ، متانت او زغم سره د کفارو په خوله کې خاورې واچوي او د دوی ګنده او بد بویه دود د لعنت په قبر کې د تل لپاره خښ کړي ،

نوې نسل داسې وروزئ چې پرهیزګار مسلمانان ، هوښیار څیرک او غیرتي افغانان وي؛

زه تاسي ته وعده او ډاډ درکوم چې د نوي نسل د ښوونې او روزنې په برخه کې به د نافذ اسلامي شریعت له غوښتو سره سم له خپله وسه سره سم د الله په توکل ګړندي ګامونه اخلم .

او هم به ستاسې د ټولو شرعي حقوقو د پوره ژغورلو او خوندیتوب لپاره پر پخوانیو فرمانونو او ځرګندونو برسیره نور هم کار کوم؛

د هیواد د اقتصادي ستونزو او د ژوند د ټولو کړاوونو په له منځه وړلو کې به خپل ځان او خپل وس نه سپموم ، تاسي به کلکې د عاګانې را پسې کوئ ،

د هیواد د سمسورتیا او د هیوادوالو د رون سباوون په هیله،

د اسلام خادم

ملا محمدعمر مجاهد

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

پاتې د ختیځ زون په ...

سطحه د افغانستان د اسلامي امارت د بیا جوړونې او عام المنفعه پروګرامونه په بشپړه توګه دادمنه او ارامه فضا کې په اساسي ډول د تحقق په حال کې دي او ده غو ولایتونو د مسلمانو خلکو په همکارۍ د پرمختیا او پراختیا په حال کې دي.

چې د کابل جلال آباد د لویې لارې اسفلت او ترمیم د جلال آباد د تورخم د سړک د بیا جوړولو د کار سروې د هدې په فارم کې د صنعتي پارک د جوړولو لپاره د ځمکې تثبیت د لغمان ولایت له مرکز مهتر الام بابا څخه تر سرخکانو پورې د سړک ترمیم او جغل اچول او نور عام المنفعه کارونه په ختیځ زون کې د دغه پروګرام د تحقق او عملي کیدو روښانه بیلګې دي.

په مقابل کې د ننګرهار ولایت دوو تنو قومي مشرانو محترم ملک شاه محمود او محترم سید حسن حسن خیل د نورو په نمایندګۍ خبرې وکړې د اسلامي امارت د عام المنفعه پروګرامونو د ستاینې په ترڅ کې یې د دغو پروګرامونو په عملي کولو کې د خپلو هر اړخیزو مرستو او همکاریو ډاډ ورکړ .

تبصره

په جده کې د سولې د خبرو نوې پړاو

تیره ورځ د ذی الحجې په لومړۍ نیټه د افغانستان د کورنۍ جګړې د پای ته رسولو په مقصد د اسلامي کنفرانس تر څارنې لاندې د سعودي عربستان د جدې په ښار کې د ا.ا.ا او د مخالفینو د استازو تر منځ د سولې خبرې اترې شروع شوې ، ددې خبرو اترو بلنه اسلامي کنفرانس ورکړې وه او یکې به د (٦+٢) هیوادونو تر څارنې لاندې یو ځل مخکې هم د ازبکستان په تاشکند کې دا ډول مذاکرات تر سره شول ، خو څنګه چې د افغانستان اوسني کورنې ستونزه د پردیو مغرضو هیوادونو د بریندو لاس وهنو له امله منځ ته راغلي او د هماغو په هر اړخیزو سیاسي او نظامي مرستو دي او رته لمن وهل کیږي ، نو ځکه په هر ځل خبرې اترې په ناکامۍ سره پای ته رسیدلي او کومه مثبته نتیجه یې نه ده ورکړې ، او څنګه چې د افغانستان د جګړې تر شا د ټول یهودیت او نصرانیت خپل خپل اهداف دي او د افغان جهاد د ارمانونو بشپړتیا د خپلو اهدافو په مخکې لوی خنډ بولي نو په خپل ټول توان او طاقت هڅه کوي چې دا ډول جګړې لا پسې نور هم دوام پیدا کړي او ښکاره خبره ده چې د ا.ا.ا مخالفینو ته په دومره پراخه اندازه نظامي ، اقتصادي او سیاسي مرستې ورکول خامخا ددې باعث ګرځي چې دوی هیڅکله هم په صادقانه ډول د سولې خبرو ته غوږ کینږدي ، له بلې خوا د ځینو هیوادونو سره خپلې اقتصادي اندیښنې هم شته ، مثلاً د ترکمنستان ګاز د پایپ لاین موضوع چې زموږ ځینې ګاونډیان نه غواړي د افغانستان له لارې تیر شي ، بلکه هغوی په خپله ځان ورته چمتو کړی دی ، نو ځکه غواړي تل د افغانستان حالات ګړ کیچن وښیي او اړوند هیوادونه دې ته تشویق کړي چې د هغوی له لارې د ا پروژه سرته ورسوي او ښایي د همدې مقصد د پاره مخالفینو ته له یوځې مهماتو بار اور ګاډي رالیږي او جنګ جګړو ته یې لمسوي روسان هم چې د افغانانو له لاسه یې لوی شوروي اتحاد دړې وړې شوی دی او اوس د منځنۍ آسیا په هیوادونو کې د څه ناڅه پاتې اثر رسوخ د تر لاسه تلو ویره ور سره ده مخالفینو ته دبې شمیره جعلي افغاني نوټونو په چاپولو او خپلو پریمانه جنګي مهماتو [illegible] ورکولو سره د جګړې اوږدول او یې دې اور کې د افغانانو سوځول غواړي .

له بلې خوا ملګري ملتونه او لویدیز هیوادونه د مخالفینو کډه په سر حکومت سره سیاسي او دیپلوماتیکي مرستې کوي او ور سره ور سره یې په ا.ا.ا پسې د داسې ناروا او درواغجن پروپاګند خوله خلاصه کړې چې د جګړه مارو مخالفینو څخه هم څوګامه وړاندې درومي ، نو په داسې حالاتو کې خو هر چا ته دا حقیقت ښه په ډاګه څرګند یدلای شي چې مخالفین به څنګه خبرو ته غوږ ونیسي او په څه ډول به له جګړې لاس واخلي ، خو په هر صورت که ریښتیا هم ګاونډي هیوادونه ، اسلامي کنفرانس او ملګري ملتونه په افغانستان کې موجود واقعیتونه په نظر کې ونیسي او په حقایقو سترګې پټې نه کړي حتماً به دغې لانجې ته د حل آسانه لار پیدا شي خوله بده مرغه موږ وینو چې په دې هکله ډیر منفي چلند کیږي او له همدې کبله تحلیل کوونکي دغو هلوځلو ته د شک په سترګه ګوري خو تر کومه ځایه چې په ا.ا.ا پورې اړه لري نو دا حقیقت هر چاته څرګند دی چې اصلاً اسلامي امارت په افغانستان کې د یوې بشپړې سولې د راوستو د پاره منځ ته راغلی او هیڅوک په دې خبره سترګې نه شي پټولای چې د کمونیست رژیم د نسکوریدانه وروسته په ټول هیواد کې د هر کلي او هرې ولسوالۍ د ملوک الطوائفي او قوماندان سالارۍ تیغ همدې اسلامي امارت ورټول کړ او هیواد یې له تجزیې وژغورړه ، نو په دې بنا اوس هم په ټول هیواد کې د بشپړې سولې ، ثبات استحکام او یو کلک اسلامي نظام جوړیدل د ا.ا.ا تر ټولو لویه هیله ده او له همدې کبله یې تل د سولې بلنه ورکړې او د سولې په خبرو کې یې برخه اخیستې ده ، اوس به ګورو چې آیا ریښتیا هم مخالفین د زړه له کومې په خبرو اترو کې برخه اخلي او که په دې کې یې هم څه نور اغراض پټ ساتلي او آیا سولګریې خواوې د افغانستان موجود واقعیتونه تر کومه حده په نظر کې نیسي او که بیا هم یوه معلوم لوري ته تیګه اچوي.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Sageb
Printed by: Emirat Printing Press